ـ کراره بده ورځ، بېگاه طیارې راغلې، دوه درې دورې یې وخوړې، خو بمبارد یې ونه کړ.
د بوډۍ شونډې وخوځېدې:
ـ شکر
شېرگل وویل:
ـ پلار مې څنگه و؟
بوډۍ بله پوښتنه وکړه:
ـ څه وخت راځي؟
یوه میلمه ځواب ورکړ:
ـ غږ یې نه دی کړی.
د بوډۍ تندی تریو شو:
ـ داسي هم نه وایي چې کور ده، اور ده، څوک جوړ دي، څوک ناجوړ، شل، یونیم شل ورځې یې ووتې، یو وار رانه غی.
یوه میلمه وخندل:
ـ رابه شي، زړه مه خوره!
بوډۍ سوړ اسویلی ویست، شونډې یې وخوځېدې:
ـ اولاد دښمن دی.
داوخت وړانگه کېږدۍ ته ورننوته، د مېلمنو تر مخ یې یوه توره چایجوشه او دوه گیلاسونه کېښودل، شېرگل ته یې وکتل، ورو یې وویل:
ـ لمبات (بوره) خلاص شویدي.



یوه میلمه وخندل:
ـ لمبات پرېږده، پرنگۍ ته ووایه چې تیاره شي.
د اوکلی ټنگاه غلې شوه.
د وړانگې رنگ والوت، شېرگل په حیرانی وویل:
ـ ولې؟!
د مېلمه خندا زور ونیو!
ـ بیایو یې! نور به یې له شره خلاص شئ.
شېرگل په بیړه وویل:
ـ چیرته؟
ـ اوس خو یې مرکز ته بیایو!!
بوډۍ د خبرو وار ونیو:
ـ وژنئ یې!
ـ خدای خبر!
شېرگل په خبره کې ورولوېد:
ـ پلار مې غوښتې؟
ـ هو!
وړانگې خپل ورور ته وکتل، د هغه سر وځړېد، نجلۍ چیغه کړه!
ـ نه!
یودم یې منډه واخیسته، له کېږدۍ ووته!
بوډۍ وویل:
ـ زه به مې زوی ته ووایم!

